د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره

د ټولټاکنو څخه د وروسته پړاو ته یوه لنډه کتنه

د نوح کابرن او انا لارسن لیکنه

# ملاتړ، چال چلند، دندې، وګړ پیژندنه
# ولې افغانانو په ۱۳۸۸ کال کې رایې ورکړې



د ۱۳۸۸ د زمري میاشت

## محتوی:

۱. سریزه ............ ۳

۲. په بل روایت: د رایې ورکوونکو د ګډون دلیلونه ............ ۴

۲،۱ دیني او مدني دنده ............ ۴

۲،۲ ټولنیز فشار ............ ۵

۲،۳ مادي هڅونې ............ ۵

۲،۴ د ټولنې د پیاوړتیا ښودلو ته لیوالتیا ............ ۶

۲،۵ د بریالی نوماند څخه ملاتړ ............ ۷

۳. ولې د خلکو د ګډون کچه لوړه نه وه؟ ............ ۸

۴. پایلې ............ ۹

نوح کابرن په کابل کې یو ټولنیز-کلتوري وګړپوه دی چې د امریکې د متحده ایالاتو د سولې د انسټیټیوټ لپاره کار کوي. نوح د بوسټون پوهنتون د پریزیډنشیل غړی وو په اخیستو سره په هغه پوهنتون کې په افغانستان کې د ځایي سیاسي جوړښتونو، شخړو او ډیموکراسۍ جوړولو په اړه خپله دداکتورا رساله بشپړه کړې ده. نوموړی خپلې د ماسترۍ زده کړې د نیویارک د کلمبیا په پوهنتون کې بشپړې کړې دي.

انالارسن د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د حکومت دارۍ د ډلې یوه څېړونکې ده ۱۳۸۳ کال راپدېخوا په افغانستان کې د حکومت دارۍ او د جنسیت د اړونده مسائلو په اړه کار کوي. نوموړې د تاوتریخوالي، شخړې او پرمختیا په اړه ماسترۍ د لندن د SOAS په پوهنتون کې بشپړه کړې ده.

د کتاب د مخ عکسونه د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې دحکومت دارۍ د څېړنې د ډلې لخوا د رایې ورکونې د مرکزونو څخه اخیستل شوي دي.

د کاپي حق د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې سره خوندي دي. د هر ډول ګټې اخیستنې حق خوندي دی. ددې خپرونې هیڅ یوه برخه بیا ځلې چاپ، د لټولو وړ سیستم کې ساتل یا په هیڅ ډول یا له هېڅ کومې لارې لکه برښنایي، ثبت یا نورو ډولونو ته د خپرونکې (د افغانستان د څېړونې او ارزونې ادارې) د مخکښنۍ لیکلې اجازې پرته نشي لېږدول کېدای. د اجازې د ترلاسه کولو لپاره publications@areu.org.af ته برېښنا لیک ولېږی یا (+۹۳) ۷۹۹۲۰۸۵۴۸ شمېرې سره اړیکه ټینګه کړی.

## ۱.  سريزه[۱]

د ۱۳۸۸ کال د زمري په ۲۹ نېټه د افغانستان د ښاري او کليوالو سيمو راي ورکوونکې د بلواګرو د بريدونو د زياتوالي سره سره د رايې ورکولو مرکزونو ته لاړل تر څو د ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو په ټاکنو کې ګډون وکړي. نړيوالو رسنيو د ټاکنو څخه په مخکې ورځو کې وړاندوينه کوله چې د طالبانو ګواښونو او د يوې ډيموکراټيک بهير په اړه د خلکو ناهيلی ته په پام کېداي شي د راي ورکوونکو حضور ډېر کم وي[۲]. د دغه شان اندېښنو او په پلازمينه کې د راي ورکولو په مرکزونو د شپږو بريدونو سره سره دا ثابته شوه چې دغه هيلې مبالغه دي او رايې ورکوونکې د ولايت په ځينو برخو کې په اوږدو کتارونو کې سترګې په لار پاتې شول او د رايې ورکولو د مرکز څخه د وتلو وروسته په شوق سره هغه رنګ ښود چې په ګوته يې وهل شوی ؤ. نړيوالو رسنيو هغه وخت د خلکو دغه حرکت د « د طالبانو څخه سرغړونه» وبلله مګر د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداري څېړنې ښيي چې د په ټاکنو کې د کابل د اوسېدونکو د عمومي ګډون تر شا ډېر پېچلي دلايل شته چې پايلې به يې په راتلونکې کال کې ځرګندې شي.

د طالبانو عمليات د کابل په ډېرو سيمو کې کم شوي او د خلکو په ورځني ژوند کمه اغېزه درلودلې وه. د ټاکنو څخه مخکې په دريو ولسواليو[۳] کې د يوې مياشتنی څېړنې په بهير کې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداري د څېړنې ډلې دا ومونده چې د د ياغيتوب ډېره کمه يادونه کيده او د مرکه کېدونکو څخه يوه هم چې ټوليز شمېر يې ۱۰۰ کسانو ته رسېده، د خپلې رايې ورکولو مهم دليل د طالبانو څخه سرغړونه و نه بلله. په همدې مهال کله چې د راي ورکوونکو زيات شمېر يې د کرزي د دولت په وړاندې خپله نا هيلي ځرګنده کړېده، او ددې حقيقت په منلو سره به بيا هم کرزی و ټاکل شي، زياتره يې بيا هم راي ورکولو ته حاضر شول.

نو کوم څه په ټاکنو کې د دغو سيمو د اوسېدونکو ګډون او لېوالتيا ځرګندوي؟ که څه هم چې ځينو راي ورکوونکو په ټاکنو کې د يوې ملي وجيبې په توګه د ګډون لپاره وهڅيدل او يا هم په يوه ډيموکراټيک بهير کې د ګډون لپاره ليوالتيا وه ، خو زياتو نورو بيا خپلې رايې د نورو  زياتو دلايلو له کبله صندوقونو ته واچولې. په دغه رپوټ کې  دا استدلال کيږي ددې لپاره چې د کابل په ولايت کې د رايې ورکولو په کړو وړو پوه شو دا امهمه ده څو هغه ټولنيز فشار، هڅونو، د ټولنې د  پياوړتيا د ښودلو ليوالتيا، اود "برياليي نوماند څخه ملاتړ" ليوالتيا ته هم پاملرنه وشي.

برسېره پردې په عين حال کې چې تېرې ټاکنې هم ولايتي او هم ملي وې،  دا ځرګنده ده چې د هرې سيمې سياسي لرليد  په ټاکنو کې د رايې ورکونکو د ګډون او د ټاکنو په اړه د دوي د درک لپاره مهم ټکی دی. د عامه وګړو رول او درک د « سياسي معامه کوونکو[۴]» - هغو

---

[۱] د دغه متن د خپرولو لګښت د افغانستان د پرانستې ټولنې د انستيټوټ د دفتر (FOSIA ) لخوا ورکړل شوی دی.

[۲] د بېلګې په توګه دغو سرچينو ته مخه کړئ. کرولين بات «د ټاکنو څخه مخکې د برتانيا رول» BBC ، د۱۳۸۸ کال د زمري ۲۸ http://news.bbc.co.uk/2/hi/uk_news/8208543.stm، اد جانس، «د ملګرو ملتونو د راپور له مخې د افغانستان د ټاکنو په مخ کې به امنيتي ګواښونه موجود وي»، بلومبرګ، د زمري ۲۸ http://www.bloomberg.com/apps/news?pid=20601091&si d=a0QOamd1R8Co، او پيتر ګراف، ((د ملګرو ملتونو سازمان وايي چې تاوتريخوالي د افغانستان ټاکنې ګواښوي) ) رويترز، د زمري ۲۸ http://www.reuters.com/article/featuredCrisis/idUSN09399479

[۳] استالف، قره باغ او دشت برچي. استالف د کابل په شمال لويديځ کې يوه کوچنۍ ولسوالي ده چې اوسېدونکې يې زياتره تاجک دي، قره باغ د کابل په لويديځ کې پرته ولسوالي ده چې د پښتنو او تاجيکو کليو څخه جوړه ده ، دواړې د کابل سره ټولنيزې او اقتصادي اړيکې لري مګر کليوالي سيمې نه ګڼل کېږي چې د ځايي ټولنې مشران د دغو ولسواليو اړوند ځايي سياست مخته يوسي. دشت برچي د کابل د ښار په څنډه کې يوه سيمه ده چې اوسېدونکې يې زياتره هزاره دي او تر يوه ميليون زيات اوسېدونکي لري دغه سيمه د کابل څخه د يوې ګوښې ولسوالۍ په توګه نه ګڼل کېږي. دشت برچي د هغو کسانو لپاره چې له ايران څخه راستنېدلي وي يا د هغو کسانو لپاره چې د افغانستان د هزاره مېشتو سيمو څخه کابل ته راځي د بيا ميشت کيدو يوه سيمه ده. دغه درې سيمې لدې ددوی د د قومي جوړښت، اقتصادي جوړښت او په ځانګړې توګه د سياسي نفوذ د ساحې د تو پيرونو له نظره چې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداري په راتلونکي راپور کې به په بشپړه توګه تشريح شي، له يو بل سره زيات توپيرونه لري. دغه مالومات د ۱۳۸۸ کال د چنګاښ او زمري په مياشتو کې د ۱۰۰ څخه د زياتو مرکو او د راي ورکوونکو، نوماندو ، کمپاين کوونکو او ځايي چارواکو سره د ډله ييزو بحثونو په ترځ کې د يوې شپږ کسيزه څېړونکې ډلې لخوا راټول شوي، چې د ټاکنو په ورځ يې د ګډونوالو سره په ۲۵ مرکزونو کې مرکې کړې دي.

[۴] په ټاکنو کې د سياسي معامله کوونکو په اړه د هر اړخيزې شننې لپاره، دغه متن ته مراجعه وکړئ: « د افغانستان ټاکنې څرنګه وړل کېداي شي»، د مارتين وان بيجلرټ ليکنه (کابل، د افغانستان د شنونکو شبکه، ۱۳۸۸) ، دغه راپور د ټاکنو څخه وروسته پدې اړه چې د دغو معامله کوونکو کړنې او ورسره نور عوامل څرنګه د ټاکنو په ورځ په ټاکنو کې د خلکو د ګډون

کسانو چې د نوماندو سره يې د ډله ييزو رايو د ترلاسه کولو په اړه معامله کوله، په اړه مهم وو مګر په هر سيمه کې يې توپير درلود او له نيوکو سره مخامخ شوې وو. په دغو معامله کوونکو کې قومي مشران، او همدارنګه پخواني جګړه ماران او په ځينو ځايونو کې ښاري ځوانانو هم د يوه ځانګړي نوماند لپاره کار کاوه، شامل وو. دغه تنوع خپله ددې څرګندونه کوي چې زياتره افغانان د رنې او د حساب ورکونې ور ډيموکراسۍ د جوړولو په لاره کې هڅې او مباحثې کوي.

او سنۍ لنډه رپوټ د زمري د ۲۹ په ټولټاکنو کې د ګډون انګېزو ته لنډه کتنه کوي.

دغه رپوټ استدلال کوي، چې په عمومي توګه د رايې ورکولو (او رايې نه ورکولو) لپاره بيل بيل دليلونه شته چې پکې د ځايي او ملي ټولنې په بنسټ فردي اندېښنې راځي چې زياتره ځايي بڼه لري. او دا په دريو ولسواليو کې د راي ورکوونکو د چال چلند په اړه د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې ژورې شننې لاره اواروي او د ۱۳۸۸ کال د تلې په مياشت کې به د لاس رسۍ وړ وي.

# ۲. په بل روايت: د رايې ورکوونکو د ګډون دليلونه

## ۲,۱ ديني او مدني دنده

د مدني دندې مفهوم په راي ورکولو مرکزونو ته د خلکو د راښکلو د تر ټولو لويو هڅونو څخه ګڼل کېږي. په رسنيو او د خلکو د خبرتيا په کمپاينونو کې زياتره د ملي دندې پر مفهوم ټينګار کېده تر څو په ټاکنو کې د ګډون د هڅونې لامل شي. دغه دنده په ځانګړې توګه د دشت برچي د سيمې د ښارمېشتو ځوانانو لپاره تر ټولو پياوړې هڅونه ښکارېده. راي ورکوونکو زياتره دغه حقيقت ته اشاره کوله چې دا لمړنۍ ځل دی چې دوی ته د هېواد د راتلونکي برخه ليک په ټاکلو کې د برخه اخيستلو فرصت ورکړل شوی دی. دوی په ځانګړې توګه ډيموکراټيکې ټاکنې د کورنيو جنګ جګړو او د طالبانو د حکومت له دورو سره پرتله کولې. د دشت برچې يو ځوان مرکه کوونکي وويل:

" مونږ ددې لپاره رايه ورکړه ځکه چې مونږ له ډېرو هېوادونو شاته پاتې يو او بايد ډېر پرمختګ وکړو. مونږ غواړو نړيوالې ټولنې ته وښيو چې مونږ نه يوازې په جګړو کې پياوړي يو بلکه کولای شو خپل هېواد ته پراختيا ورکړو."که څه هم چې دغه شان احساس عمومي او د لويانو به مينځ کې نه وو زيات شميرکليوالو راي ورکوونکو په اند ډيموکراسي د لويديځو ارزښتونو منل او د خپلو دودونو او ارزښتونو څخه د ليرې پاتې کېدو مانا لري، او دغه ټکی په افغانستان کې د ډيموکراسۍ د معنی په اړه د پراخو اندېښنو څرګندوونکی دی.[۵]

هغه موضوع چې عموماً په رسنيو کې ياده نشوه، د راي ورکولو مرکزونو ته خلکو د راښکلو په اړه د اسلام اهميت ؤ. ملايانو او نورو مذهبي مشرانو په ټاکنو کې د خلکو په هڅونه کې ډېر مهم رول ولوباوه. د قره باغ ولسوالۍ ملا د ټاکنو څخه څو ورځې مخکې د ولسوالۍ د شورا په يوه غونډه کې خبرې کولې او د لاربنود ټاکنه يې د هر مسلمان ديني دنده وګڼله.[۶] نورو مرکه کېدونکو څرګنده کړه چې رايه ورکونکې بايد څرنګه يو نوماند چې ښه مسلمان وي يا هغه چې د اسلام په اړه ښه پوهه ولري وټاکي. (دو ی به اکثراً د"نيک" کلمه به يې په کاروله چې په ساده ډول د ښه معنی لري مګر د مذهبي نظره يو ډېر پياوړی مفهوم لري) څرنګه چې يوه رايه ورکوونکي داسې څرګنده کړه: "مونږ هغه شخص ته رايه ورکوو چې تر ټولو لومړی مسلمان وي، دوهم افغان وي او په پای کې داسې کس وي چې وکولای شي خلکو ته د خدمت جوګه شي." نورو مرکه کېدونکو بيا يوه ځانګړې کانديد ته د رايې د ورکولو د فشار په وړاندې د غبرګون په توګه

---

لامل شول، خپور شو.

[۵] پدې اړه د زياتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره، د انالارسن راتلونکې رسالې «د افغاني ډيموکراسۍ په لور؟ په افغانستان کې د ډيموکراسۍ جوړولو د پروسې د مالکيت لټه»، (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۱۳۸۸)

[۶] د شوراي د غونډې څخه لاسته راغلې کتنې

دغه ټکي ته اشاره وکړه چې د رایې ورکولو په کوټنۍ کې یوازې رایه ورکوونکی او الله وي. دغه شان مذهبي فصاحت او بلاغت به اکثراً د ملي دندې د نظریې سره به یوځای وو. په دشت برچي کې یو تن رایه ورکوونکي د ښځینې ډلې ته وویل:

"مونږ باید رایه ورکړو، ځکه دا زمونږ دنده او مسوولیت دی، لکه څرنګه چې د لمونځ ادا کولو دنده لرو."

د دغو دوو ملي او دیني دندو یو ځای کیدنه، په افغانستان کې دې لیوالتیا ته په پام سره چې ملي هویت او دیني هویت له یو بل سره یو ځای کېږي، حیرانونکی ندی[7].

## ۲٫۲ ټولنیز فشار

د ځینو تر پوښښ لاندې درې واړو سیمو کې د رایې ورکولو ځینې مرکزونه د خوښې په غونډه بدل شول چې پکې سیمه ایز مشران د رای ورکولو د مرکزونو څخه بهر ناست وو، چاې یې څښه او د هغو کسانو سره یې چې د رایې ورکولو مرکزنو ته تلل راتلل خبرې اترې کولې. ډېر کله نوماندان، قوماندانان او دولتي چارواکې د تمه کېدونکې وخت څخه د رایې ورکولو له مرکزونو څخه بهر زیات تم کیدل او داسې ښکاریده چې د هغو کسانو ننداره یې کوله چې رایې یې ورکړې وې. په ډېرو کلیوالو سیمو کې، ځوانانو د رایې ورکولو د مرکزونو پر لاره د سپین ږیرو سره سترې مشي کوله او ډاډ یې ترلاسه کاوه چې دوی ګډون کړی دی. په ځینو مواردو کې خلکو له لیرو پرتو سیمو څخه به د رایې ورکولو لویو مرکزونو کې د رایې ورکولو په موخه د ولسوالیو مرکزونو ته سفر وکړ او هغو کسانو ته چې هلته د مرکزونو څخه بهر ولاړ وه ښودل چې د دوې د کلي او سېدونکي په ټاکنو کې پراخه ونډه لري، له بل لورې داستالیف او قره باغ څخه ډېرې کورنۍ چې په کابل کې یې ژوند کوي، د رایې ورکولو لپاره خپلو ولسوالیو ته ولاړل، سره لدې چې کولای یې شوای په کابل کې په ټاکنو کې ګډون وکړي. په نورو ځایونو کې نوماندان، سیاسي معامله کوونکې او ځایي چارواکې د رایې ورکولو له یوه مرکز څخه بل ته تلل او د خلکو ډلې یې د رایې ورکولو لپاره هڅول. دډېرو برخو لپاره دغو سیاسي ډیرو په توګه د ټاکنو په ورځ د ځانګړې نوماند لپاره کمپاین و نه کړ، خو لدې سره سره د ځینو ځانګړو کسانو په اړه خبرې اترې روانې وې. د رایې ورکولو په یوه مرکز کې یوه ځایی قوماندان په بیا بیا رایې ورکوونکو ته ویل

"نن د ډاکټر صاحب لپاره خورا ارزښتناکه ورځ ده،"چې موخه یې د ولایتي شورا یو ځایي کاندید ؤ.

په دشت برچي کې چې ښار ته نږدې سیمه ده، د دې په اړه چې کومو کسانو رایه ورکړې او کومو کسانو رایه نده ورکړې، د سیاسي معامله کوونکو لپاره ستونزمنه وه، مګر سره لدې هم د خلکو د ګډون لپاره فشار موجود ؤ. په ځانګړې توګه د هغو ځوانو نارینه رایه ورکوونکو[8] په مینځ کې چې په دشت برچي کې ورسره مرکې شوېدې، رایه ورکول یو ډول ویاړ ګڼل کېده او د رایې وورکولو لپاره به یې په یو بل فشار اچولو. چې دا کار به د هغو کسانو چې خپلې رایې یې کارولې د ګوتو د رنګ سره به نو رهم پیاوړی کیدو ځکه چې هغه کسانو چې رایې یې نه وې کارولې په آسانۍ سره څرګندیدل. لکه څرنګه چې واوربدل شول، په دشت برچي کې هغه د زیات عمر کسان چې د رایې ورکولو د مرکز بهر ناست وو، هغه شمېر خلک چې ګوته یې نه وه رنګ شوې، تنبیه کول چې رایه ورکول ددوی مسئولیت دوو.

---

[7] د توماس بارفیلد لخوا وړاندې شوې بېلګې ته مراجعه وکړئ «په افغانستان کې اسلامي حکومت هغه دی چې د ښو مسلمانانو لخوا یې مشري کېږي، چې پکې د دین څخه موخه د ژوند روښ دی نه یوه ایډیولوژي»، د مسلمانانو د سیاست د بیا جوړونې په اړه: ډېرواله (کثرت ګرایي)، مبارزه کول، ډیموکراسي جوړونه، رابرت جفنز (پرنستون، ان، جې: د پرنستون د پوهنتون خپرونې، ۱۳۸۴)

[8] له ښځو سره هم د ځېړنېزې ډلې لخوا مرکې وشوې، مګر د نارینه وو په څیر د ښځو د نظرونو کومه پراخه لړۍ ترلاسه نشوه. د ټاکنو په ورځ د نارینه وو برعکس ښځې د د کلتوري نورمونو، امنیتي دلایلو او کورنیو مسولیتونو له کبله د رایې ورکولو د مرکزونو بهر نه تم کیدې.

## ۲,۳ مادي هڅونې

په ځینو پېښو کې سیاسي معامله کوونکو ټولنیز فشار له مادي هڅونکو سره یو ځای کړ تر څو خلک یوه ځانګړي نوماند ته د رایې ورکولو لپاره وهڅوي. که څه هم چې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې څېړنیزه ډله د ټاکنو په ورځ د پیسو یا اجناسو د تبادلې په اړه د هېڅ ډول مستقیمو شواهدو سره مخ نشوه، مګر د اوازو په بنسټ دغه شان چاره په څو ځایونو کې پېښه شوېده. د بېلګې په توګه ویل کېږي چې ملکانو په ځانګړي توګه په کلیوالو سیمو کې د ځانګړي شمیر کارتونو د راټولولو له کبله پیسې ترلاسه کړې دي. یوه ځوان د فساد د یوې بېښې په توګه یې هغه مشر ته اشاره وکړه چې په دې وروستیو کې یې یو نوی موټر پیرودلی دی. هغه څه چې لږ ښکاره ده، د ولسمشرۍ د نوماندو د کمپاین چارواکو داسې دمیلمستیاوو پروګرامونه یې جوړول څو د څو پدې توګه د خلکو پاملرنه خپل نوماند ته راواړوي. که څه هم دغه تخنیک ډیر ځلې وکارول شو چې په درې واړو سیمو کې رایه ورکوونکو په ټوکو کې ویل چې په یوه ورځ کې د ګڼ شمېر کاندیدانو ډوډۍ یې خوړلې ده. ځینو پدغه شان مجلسونو کې په ښکاره توګه ویل چې د یوه کاندید ډوډۍ به ومني، مګر دغه کار د دوی د رایې ورکولو تګلورۍ نشي ټاکلای. ګڼو رای ورکوونکو څرګنده کړه چې دا ځل به دوی د سیاسي ګوندونو او نوماندو څخه ګټه ترلاسه کړي، پداسې حال کې چې په تېرو ټاکنو کې ګوندونو له خلکو ګټه ترلاسه کړه. دا ټکی څرګندوي چې خلک د ټاکنو له سیستم او هغو لارو چارو چې نوماندې یې د رایې ترلاسه کولو په موخه کاروي، په اړه زیاته آشنایي ترلاسه کړېده.

د ټاکنو په ورځ کاندیدانو او د هغوي کمپاین کوونکو د قره باغ په ولسوالۍ کې ټکسیان په کرایه نیولې وو تر څو لیرې سیمو ته لاړ شي او رایه ورکوونکي د رایې ورکولو مرکزونو ته ورسوي. د ټکسیانو تېل ورکول کېده تر څو په ځانګړي توګه ښځې چې د اوږدو لارو په خپلو پښو مزل ورته ستونزمن دی، د رایې ورکولو مرکزونو ته ورسوي. د دغو ټکسیانو یو ډرېور وویل چې دوی ته ویل شوي وو چې په نبغه رایه ورکوونکو ته ونه وایي چې چاته رایه ورکړي، بلکه د رایې ورکولو تر مرکز پورې د رسېدو تروخته د ځانګړي کاندید صفتونه وکړي. که څه هم چې دغه شان مادي هڅونې پدې اړه چې څوک رایه ورکړي یا چاته رایه ورکړي، هومره اغېزناکې نه ښکارېدې. آن کمپاین کوونکو ته د معاش ورکړې هم چندان د دوی د وفادارۍ ضمانت نه کاوه- په قره باغ کې د کرزي یوه کمپاین کوونکي وویل، ددې تمه لرې چې کرزی په لومړي پړاو کې ګټونکی نشي تر څو د ټاکنو تردوهم پړاو (اکتوبر) پورې دنده ولري. همدارنګه رایه ورکوونکو داسې ځانګړې لاره غوره کاوه چې په عین وخت کې له یوه څخه د زیاتو نوماندو ملاتړ وکړي. د رایې ورکولو د مرکزونو څخه بهر یوه ډله سپین ږیرو په لوړ غږ خپل ملاتړ له هغه نوماند څخه اعلان کړ چې مرکز ته نږدې ولاړ ؤ، او څو شیبې وروسته چې نوماند له هغه ځایه ولاړ، د بل نوماند څخه یې خپل ملاتړ اعلان کړ. د څو نوماندو د ملاتړ په ښودلو سره د ټولنې دغو بانفوذه کسانو خپلې ګټې احتمال زیات کړ- هغه ګټه چې کېدای شي په راتلونکي کې ور په برخه شي. یوه نوماند ته وعده ورکول او ددې تمې په ځای چې هغه به ګټونکی شي، دوی د بالقوه وړونکو شمېر څو برابره کړ تر څو وکولای شي په راتلونکې کې له دوی څخه د یوې هڅونکې سرچینې په توګه ګټه واخلي.

## ۲,۴ د ټولنې د پیاوړتیا ښودلو ته لیوالتیا

په قره باغ کې د څېړونکو په بیا بیادې ټکې ته پام شو چې ولسوال او نورو مشرانو به خلک رایې ورکولو ته ځکه دا کار به د سیمې د نورو ولسوالیو په پرتله د قره باغ د پیاوړتیا څرګندونه وکړي. یو رایه ورکوونکي دغه موضوع په روښانه توګه‌څرګنده کړه او ویې ویل:

"په دوو دلیلونو زمونږ رایه ورکول ارزښتناک دي: لمړی دا چې د ولسمشر او د خلکو د استازو په ټاکلو سره مونږ د افغانستان راتلونکې ټاکو او دوهم دا چې مونږ غواړو زمونږ د ولسوالۍ د رایو کچه د کابل د نورو ټولو ولسوالیو په پرتله زیاته وي". دغې موضوع د ډاډ وړ سرشمېرنې د نشتوالي له کبله خورا زیات ارزښت وموند- په حقیقت کې ځایي چارواکو هڅه وکړه چې د رایې ورکولو په مرکزونو کې د رای ورکوونکو د شمېرنې څخه د سرشمېرنې د یوې لارې په توګه ګټه واخلي، تر څو د خپلې ولسوالۍ د وګړو شمېر زیات ثابت کړي او د هغې ولسوالۍ لپاره زیات خدمتونه راجلب کړي. په ټاکنو کې د خلکو زیاته ونډه نه یوازې دولت ته د یوې ولسوالۍ د پیاوړتیا

ثرګندونه کوي. د قره باغ د ولسوالۍ د شوراي رئيس د ولسوالۍ په کچه په يوه غونډه کې دا ټکی څرګند کړ چې په ټاکنو کې د خلکو زيات ګډون له ټولنې سره مرسته کوي تر څو د نړيوالو نادولتي سازمانونو څخه زياتې مرستې ترلاسه کړي.

دې ته په پام چې دشت برچي د کابل ښار ته نږدې سيمه ده او د قره باغ او استالف په شان سرحدي ولسوالي نده، او دا خپله يو بيل سياسي لر ليد جوړوي. د مرکه کېدونکو تر منځ د رايې ورکولو په هکله خبرې اترې ددې لپاره چې د هزاره ګانو د ټولنې پياوړتيا او اندازه څرګنده کړي عامې وې، ، مګر د "ټولنې" مو خه ټول هزاره ټبر ؤ نه يوازې د دشت برچي او سېدونکي په ځانګړې ډول. مرکه کېدونکو په ياد درلودل چې د ټاکنو څخه په مخکې اوونيو کې د جمعې په ورځو ملايانو خلک رايې ورکولو ته هڅول تر څو دولت ته و ښيي چې دوي داسې ځواک دی چې بايد جدي په پام کې ونيول شي. او د دوی دنه چندان کوچنی لړه کې په توګه په ټاکنو کې ارزښتناک و ګڼل شي، ځکه نو ديوې رايې ورکونکې ډلې په توګه د عوض ورکولو وړ دي. د هزاره ګانو د يووالي موضوع ( هم د افغانانو له ليدلورې او هم د بهرنيانو ) د اهل تشيع د ډ مذهبي ډلې سره مدغم شو، او ښايي ددغو ملايانو اشاره هم اهل تشيع مسلمانانو ته ( چې عموماً هزاره ګان دي ) او هم هزاره ګان ( چې زياتره يې شيعيان دي ) سياسي اغيزې ته وي. سره له دې دا موضوع د دشت برچي ليوالتيا ( د نورو سيمو په څېر ) مذهبي مشرانو ته څرګندوي چې د هزاره ګانو د سياسي سمبالونکې په توګه مهم رول لوبوي.

ددې سره سره د دشت برچي خلک په سيمو پورې د ګټو د ځانګړي کېدو په اړه اند ښمن وو، لکه څرنګه چې د ولايتي شوراګانو په ټاکنو کې څرګنده شوه، چې البته د دغو ټاکنې په نړيواله کچه د د ولسمشرۍ د ټاکنو تر اغېزې لاندې راغلې. زياتره او سېدونکو د داسې استازي د ټاکلو په اړه چې د دوي د نږدې سيمو او سېدونکی وي، خبرې کولې. خلکو په دريو دلايلو دغه شان غوښتنه درلوده؛ لمړی دا چې وکولای شي استازي ته په آسانۍ سره لاسرسی ولري، دويم دا چې د دوی ټاکل شوی استازی د دوی سيمې ته د توکو او خدمتونو د چمتو کولو په برخه کې مرسته وکړي[۹]، او دريم دا چې رايه ورکوونکو د دوی د پام وړ نوماند سره په نږدې سيمه کې د اوسيدو له کبله له هغه سره آشنايي پيدا کړېده[۱۰]. داسې ښکاري د هزاره قوم د يووالي د څرګندولو پر اړتيا برسېره بله موضوع چې خلک يې د رايې ورکولو ته وهڅول د ځانګړو ځايي ډلو د ګټو د ساتلو لېوالتيا وه.

## ۲٫۵ د بريالی نوماند څخه ملاتړ

په افغانستان کې د رايې ورکونکو ليوالتيا بريالي آس پسې تللو لپاره په نورو څېړنو کې هم څرګنده شوی ده[۱۱]، د دغه راپور لپاره ترسره شوې څېړنې څرګندوي چې د هغه کانديد چې تمه کېږي وړونکی شي، د ملاتړ د امکان شتون خپله د رايې ورکولو لپاره يو دليل دی. دغه کار په کره توګه د مادي هڅوونکو له لارې د رايې د تبادلې يوه مساله نه ده، په حقيقت کې دا هغه کانديد ته د وفادارۍ د څرګندولو لاره ده په دې تمه چې په راتلونکې کې به ملاتړ او پاملرنې د لاس ته راوړلو لامل به شي.. رايه ورکوونکو د څېړنې په درې واړو سيمو کې څرګنده کړه چې که يوه سيمه د ګټونکې نوماند ملاتړ کړی وي، وروسته د هغې سيمې خلک خپل استازي کابل ته استولی شي او لدې کبله چې په ټاکنو کې يې د ( ولسمشر ) نوماند ملاتړ کړی، له دولت څخه د زياتو مرستو غوښتنه وکړي.

د ټاکنو وروسته د ملاتړ د تمې کچه د ځايي کتنو څخه لوړه وه، سره له دې يوه مرکه کېدونکي پدې اړه وويل: "مونږ کرزي ته رايه ورکړه، ځکه محقق او خليلي له کرزي سره تړون لاسليک کړی چې هغه به زمونږ لپاره يو څه وکړي، ، د بېلګې په توګه په بهسودو کې به د ځمکې پر سر شخړې حل کوي او يا به جاغوري په يوه خپلواک ولايت اړوي". پداسې حال کې چې دغه مسئلې په څرګند ډول هزاره خلکو پورې

[۹] دغه موضوع د زيات شمېر کسانو د نظر مخالفه ده. دوي وايي چې ولايتي شوراګانې ګټور او د خدمتونو وړاندې کوونکي ارګانونه ندي. په هر حال دا د هغو تمو له ډلې يو ؤ چې د مرکه کېدونکو لخوا مطرح شول.

[۱۰] د آشنايي په اړه د زياتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د انالارسن راتلونکي راپور «د يوې افغاني ډيموکراسۍ په لور» ولولئ.

[۱۱] د بېلګې په توګه د مارتين ون بجلرت «څرنګه د افغانستان په ټاکنو کې وړونکي کېدای شو؟»، راپور

اړوندې دي، د ولسمشرۍ له نوماند او د قومي او سیمه ییزو مشرانو تر منځ د خدمتونو د لاس ته راوړلو لپاره د د معاملې لېوالتیا او ددوې د ځانګړې رایه ورکونکې ډلې تعهد ډ ټولو ډلو تر مینځ خپره ده. «خدمتونو» کې د ځمکې د ورکړې ، د ټولګټو پروژو ، د وزارت یا هم د ولایت ژمنې شاملې دي.د دغو امتیازاتو د ترلاسه کولو نظر خپله د دوی د رایې ورکولو دلیل کېدای شي، چې د ګټونکي کاندید څخه د ملاتړ او د مادي امتیازاتو د ترلاسه کولو سره اړیکه لري.

په استالف کې رایه ورکوونکي د یو ډول ستونزې سره مخ وو ، ځکه لکه څرنګه چې د هغه ځای خلک تاجکان دي او تاجکان د شمالي ټلوالې د مړه شوي لارښود احمد شاه مسعود ملاتړ کوي، تاجکان زیاتره عبدالله ته چې د مسعود له نږدې هم پیمانانو نو څخه دی، رایه ورکړه. که څه هم چې د کمپاین په لومړیو ورځو کې عمومي انګېرنه داوه چې عبدالله د ګټلو کم چانس لري. لدې کبله عبدالله ته د رایې ورکړه په حقیقت کې د رایې ضایع کول ګڼل کېدل او مشرانو ځوانان هڅول چې کرزی وټاکي ، پدې تمه چې په راتلونکې کې به د دولت لخوا خدمتونه ترلاسه کړي. لکه څرنګه چې د کمپاین ورستیو ورځې رانږدې کېدې، د کم شمېر استالیفیانو څخه اورېدل کېدل چې د کرزي ملاتړ کوي. که څه هم چې د سیمې ځینې مشرانو د کرزي د ملاتړ په اړتیا ټینګار کاوه.

جالبه داده چې د ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې هم پېښېه شوېده، د رسېدلو راپورونو په بنسټ ځینې مشرانو او د سیمې مخورو په ښکاره توګه د رایې ورکولو په مرکزونو ویل چې نوماندو ته ځکه رایه ورکوي چې په راتلونکې کې د خپلې رایې حاصل و رېبي. که رایې د ځانګړو نوماندو په ګټه اچول کېدي او که نه، خو پدې بېښه به ملاتړ ښودل کیده. سمه ده چې دا موضوع نوماندو سره د رایې ورکونکو د ملاتړ بهیر څرګندوي، مګر په عین وخت کې د ټاکنو په بهیر کې پر شخصي ګټو د ټینګار څرګندونه هم کوي او همدارنګه ښيي چې وګړې تر کومې کچې کولای شي( په ځانګړې ډول مخور ) له سیستم د خپلو شخصي ګټو د ترلاسه کولو لپاره کار واخلي.

# ۳. ولې د خلکو د ګډون کچه لوړه نه وه؟

سره لدې چې تر څېړنې لاندې سیمو[۱۲] کې د خلکو د ګډون کچه په پرتله ییزه توګه لوړه وه، د ځینو حالاتو په پام کې نیولو سره څو مهم لاملونه وو چې د ټاکنو په ورځ د رایه ورکوونکو د شمېر د زیاتوالي خنډ ګرځېدل، چې د دوی له ډلې کېدای شي د رایې ورکولو د بهیر په هکله مغشوشتیا او ټولنیزو نورمونو ته ګوته ونیسو. که څه هم چې ټاکنو ته په نږدې ورځو کې رسنیو په امنیتي اندیښنو ډیر تمرکز درلوده، تر څېړنې لاندې سیمو کې یواځې کم شمېر رایه ورکوونکو امنیتي ستونزې د ددوی د رایې ورکولو یا نه ورکولو د پریکړو لپاره مهم لامل وګاڼه. په عمومي توګه د رایې ورکولو د مرکزونو په شاوخوا کې ټینګ امنیتي تدابیر د ملي پوځ، ملي پولیسو او د ملي امنیت د شخصي جامو د افسرانو لخوا چې رایه ورکونکې یې پلټل تر سترګو کیده، د خلکو سلاګانې یې ضبطولې او د رایې ورکولو په کتارونو کې نظم ټینګاوه. د ټاکنو د ورځې په سهار د څو کوچنیو بریدونو په اړه راپورونو د رایې ورکولو د مرکزونو په لور د خلکو د تګ کچه کمه نه کړه.

د نوم ثبتولو او د ټاکنو د ورځې د اړونده پروسې مغشوشتیا د زیات شمېر کسانو د رایې ورکولو خنډ وګرځېده او یا یې هم د رایې اعتبار له ګوابښ سره مخ کړ. اصلي شکایت د هغو کسانو له لخوا ؤ چې خپل د رایو کارټونه یې ورک کړي وو ( نو لدې کبله یې د رایه ورکولو

---

۱۲ دا ادعا د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د څېړونکو د وینا په بنسټ ده چې د ټاکنو په ورځ په هره سیمه کې مېشت شوي وو ، ځکه تر هغه وخته په ولسوالیو کې د خلکو د ګډون په اړه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون شمېرې په لاس کې نه وې. د BBC د راپور په بنسټ په لومړیو کې کمیسیون اټکل کړی ؤ چې عمومي حضور به ۴۰-۴۵ په سلو کې وي؛ BBC، د ۱۳۸۸ کال د زمري ۳۰ http://news.bbc.co.uk/2/hi/south_asia/8213374.stm. که څه هم چې د کمیسیون او نورو سرچینو لخوا ضد او نقیض شمېرې بیان شوې دي، او د ټولیز حضور په اړه پر شمېرو هېڅ ډول توافق نشته.

اجازه تر لاسه نه کړه)، او همدارنګه د هغو رایه ورکوونکې چې د ولایتي شورا د رایې ورکولو په څوګونو اړوند پاڼو چې پکې ۵۲۴ نوماندې وو، لارورکي شوې وو. د ټاکنو په نږدې ورځو کې هم دغه اندېښنې په ټاکنو کې د نه ګډون د دلیلونو په توګه د مرکه کېدونکو لخوا مطرح شوې دي.

له ټاکنو مخکې په ټاکنو کې د ښځینه رایې ورکونکو د لږ ګډون په اړه اندېښنه موجوده وه او په ډېرو ځایونو کې د رای ورکولو دغې اندېښنې د عمل جامه واغوسته. په قره باغ او استالف کې د رایې ورکولو په ځینو مرکزونو کې آن د څېړنیزې ډلې لپاره د ښځو اړوندې ځانګې ځاي موندل ستونزمن وو، دا خو لا پرېږده چې د ښځو د ګډون کچه وټاکي. په هغو مرکزونو کې چې د ښځو رایه ورکوونکو کتارونه لیدل کېدل، ډېر کم شمېر ښځو ګډون کړی ؤ. پدې سیمو کې حاکمو ټولنیزو محافظه کارانه نورمونو ته په پام، دغه کار حیرانونکی نه بریښي. مګر په دشت برچي کې موضوع بیخي برعکس وه او د ښځو او نارینه وو رایه ورکوونکو شمېر برابر ؤ.

# ۴. پایلې

دغه رپوټ څرګنده کړه چې په کابل کې د خلکو د ګډون هڅوونکې یو له بله توپیر درلود چې پکې فردي، ټولنېز بنسټ، قومي او ملي اندېښنې راځي. مګر دغه موضوع د د ټاکنو څخه وروسته دور او ۱۳۸۹ کال د ولسي جرګې ټاکنو لپاره څه مانا لري؟ د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې راتلونکې د بحث پاڼه به دا موضوع په تفصیل سره وڅیړي، مګر لومړنی موندنې په لاندې ډول دي:

## د ټاکنو سمدستي وروستي بهیر لپاره:

د کاندیدانو او د لوړپوړو سیاسي معامله کوونکو (لکه قومي مشران) تر منځ معاملې وشوې چې پکې د (د کلیو د سړکونو له اوارولو د یوه بیل ولایت را مینځ ته کول، خاصو قومونو ته د وزارتونو او ولایتونو ځانګړې کول) په شان له حده لوړې ژمنې وشوې چې د هغه د نه عملي کېدو په صورت کې د قومي شخړو او دولت ته د یوې برخې د غاړې نه ایښودو په شان د غبرګونونو د پارېدو لامل کېداي شي.

د ټاکنو د بریالیتوب په اړه د رایه ورکوونکو قضاوت به پرته لدې وي چې د دوي نوماند ګټونکی دی او که نه، په حقیقت کې د رایې ورکولو په اړه ګڼ شمېر دلیلونه وو او دغه ټول دلیلونه د یوه ځانګړي نوماند په بري پورې اړوند نه وو. دغه چاره د رایه ورکوونکو د ملاتړموضع بدلولای شي، او د ټاکنو څخه وروسته د هر ډول شخړې یا تاوتریخوالي د پېښېدو په صورت کې، یا د ټاکنو د دویم پړاو د کېدو په صورت کې باید تصور و نه شي چې دوي به هغه نوماند ته وفادار پاتې شي چې په لومړي پړاو کې یې ورته رایه ورکړې ده.

## د ولسي جرګې د راتلونکو ټاکنو لپاره:

په ټاکنو کې ګډون هرو مرو په افغانستان د کې د ډیموکراسۍ جوړولو د بهیر د زړه څخه د منلو په مانا ندی. داسې نښې انګیرل کیدای چې په ټاکنو کې یوا ځې د خلکو په ګډون هېوا د ډیموکراسۍ ته رسېدلی دی. که څه هم دغه څېړنې تر خپل پوښښ لاندې سیمو کې د بیلا بیلو دلیلونو پر بنسټ ټاکنو کې د ګډون لپاره د زیات شمېر خلکو لېوالتیا ته پاملرنه و شوه..

د بریالیتوب لپاره د ولسي جرګې نوماندې انعطاف منونکې او متنوع کمپاین ته اړتیا لري چې رایه ورکوونکو ته ببلابېلې او په عین حال کې نه چندان ښکاره هڅونې ورکړي.

ښایي رایه ورکوونکې د ولسي جرګې نوماندې د خپلو ځایي اندېښنو په بنسټ وټاکي. همدارنګه ښایي ځایي ټولنې د هغه کاندید د ټاکنې لپاره چې ورسره آشنایي لري د ډله ییزو ستراتېژیو د کارولو هڅه وکړي. که څه هم چې د دغه شان ستراتېژیو د بریالیتوب به توپیر ولري. داسې ښکاري چې سیاسي سمبالونکې به له یو بل سره ورته نه وي. په ډېرو حالاتو کې کېداي شي ملایان او نور دیني مشران په

ټاکنو کې د خلکو د ګډون د هڅولو تر ټولو مهمې څېرې وي، مګر په عین حال کې څرګنده ده چې یو لړ فعالین لکه دودیز مشران او په سیاست کې فعال ځوانان، پدې اړه خورا ارزښتمنه ونډه لري.

که د دغو ټاکنو کاندیدان داسې څرګند شي چې د تر ټولو لویو مادي امتیازاتو په وړاندې کولو سره ګټونکي دي، د **۱۳۸۹** کال ټاکنو په اړه شک به لا نور رهم زیات شي. د سیاسي معامله کوونکو لخوا به نورې زیاتې ستراتېژۍ تر لاس لاندې ونیول شي تر څو د کاندیدانو څخه په پراخه کچه مادي ګټې او امتیازات تر لاسه کړي. همدا رنګه که په **۱۳۸۸** کال کې ورکړل شوې ژمنې پوره نشي، د دولت په وړاندې ناباوري کېدای شي د **۱۳۸۹** کال په ټاکنو کې تر ټولو کم ګډون لامل وګرځي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (**AREU**) په کابل کې میشته یوه نا پیلې څېړنیزه اداره ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالي درلودونکې څېړنو له لارې پرپالیسۍ او چارومثبتې اغیزې دي. همدا راز نوموړې اداره هڅه کوي څو په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې کلتور ته د تحلیلي ظرفیت د پیاوړې کولو او د فکرونو او بحثونو د آسانولو له لارې په فعاله توګه وده ورکړي. ددې ادارې اصلي موخه دڅېړنې له لارې د افغانانو د ژوندانه ښه والې دی.

دګل پلورلو کوڅه (د دوهم سرک کنج)، نوې ښار، کابل، افغانستان

وب سایټ: www.areu.org.af برېښنا: areu@areu.org.af ټلیفون: ۵۸۴ ۲۰۸ ۷۹۹ (۰) ۹۳+